آقا کا مہینہ (پشتو)

# د آقا میاشت



شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال
مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي
دامت برکاتهم العالیة

# د آقا میاشت

از: شیْخِ طرِیقتْ امیْرِ اَهْلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي

## حضرتِ علّامه، موْلانا، ابُو بِلال محمّد اِلْیاس عَطّار قادِري، رَضوِي

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

د ترجمي پیشکش:

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې د اُردو ژبې نه په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمي زیاتي اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.


مجلس تراجم دعوتِ اسلامي

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینه کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندې دُعا اولولئ
اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ کوم څه چه لولئ نو هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

ترجمه: اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په مونږه دَ علم او دَحکمت دروازې پرانيزې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!
(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)
(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالِب د
غمِ مدينه
بقيع او بخښنې
٢ جمادی الثانی ١٤٣٦ھ


د رسالې نوم: د آقا مياشت
اول ځل: جمادی الثانی ١٤٣٦ھ، اپريل 2015ء تعداد:

ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچۍ.



مدني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چهاپ کولو اجازت نشته


### کتاب اخستونکې توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د آقا میاشت*

## د درود و سلام د عاشق مُقام

**حضرت** سَیِّدُنا شیخ ابوبکر شِبلي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْوَالِی یوه ورځ د بَغدادِ مُعَلّٰی د غټ عالِم حضرت سیِّدُناابوبکر بن مجاهد عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْوَاحِد خوا ته تشریف یوړو. هغوئي فوراً اودریدل او هغوئي له ئې غاړه ورکړه، د هغوئ تَندي ئې ښکل کړو او په ډیر ادب سره ئې د خپل ځان سره کښینولو. حاضرو خلقو عرض اوکړو: یا سَیِّدِي! تاسو او د بَغداد خلقو تر نن پورې دوئ ته دیوانه وئیلو، نن مو د دوئ دومره عزت په څه وجه اوکړو؟ جواب ئې ورکړو: ما هسې داسې نه دي کړي، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ نن شپه ما په خوب کښې دا ایمان تازه کونکې نظاره اولیدله چه حضرت سَیِّدُنا ابوبکر شبلي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْوَالِی په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو نو سرکارِ دو عالَم، نُورِ مُجَسَّم، شاهِ بني آدم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اودریدلو او دوئ [یعني شِبلي] ئې د سینې سره اولګولو او په تَندي ئې ښکل کړو او د ځان سره ئې کښینولو. ما عرض اوکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! په شِبلي باندې

---

* دا بیان امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د تبلیغ قرآن وسنت عالمګیر غیرسیاسی تحریک دعوت اسلامی په عالَمي مدني مرکز باب المدینه کراچۍ کښې په هفته واره د سنّتونونه ډکه اجتماع (26 رَجَبُ الْمُرَجَّب 1431ه، مطابِق 10-07-08) کښې فرمائیلي وو.د ضروری ترمیم سره دَلیک په صورت کښې حاضرِ خدمت دې.
مجلس مکتبه المدینه

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

د دومره ډير شفقت [يعني مهربانۍ] څه وجه ده؟ نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ محبوب، دانائے غُيُوب، مُنَزَّهٌ عَنِ العُيُوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د غيبو خبر راکړو) اوئي فرمائيل: چه دا د هرمانځه نه وروسته دا آيت لولي:

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۸﴾ او بيا په ما باندې درود شريف لولي.

(القول البديع ص346 مؤسسة الريان بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د آقا مياشت

د رَسُولِ اَکرَم، نُورِ مُجَسَّم، شاهِ بني آدم، نَبِيِّ مُحتَشَم، شافِعِ اُمَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په باره کښې فرمانِ مُکرّم دي: شعبان زما مياشت ده او رَمَضَان د اللّٰه مياشت ده. (الجامع الصغير للسيوطي ص301 حديث4889 دار الكتب العلميه بيروت)

## د شَعبان د پينځو حروفو سپرلي

سُبحٰنَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د مياشتې په عظمتونو قربان! د دې د فضيلت دپاره صرف دومره کافي ده چه زمونږ خوږ خوږ آقا، مَکّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې ته "خپله مياشت" فرمائيلې ده. سَيِّدُنا غوثِ اعظم، مَحبُوبِ سُبحَاني، قِندِيلِ نُوراني، شيخ عَبدُ القادِر جِيلاني حَنبَلي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْوَالِي د لفظِ "شَعْبَان" د پينځه حروفو "ش، ع، ب، ا، ن" مُتَعَلِّق نقل کوي: د ش نه مراد "شرف" يعني بُزُرګي، د ع نه مراد "عُلُوّ"

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

یعنې اوچت والې، د ب نه مراد ”بِر“ یعنې احسان او نیکي، **الف** نه مراد ”اُلفَت“ [یعنې محبت]، او د **ن** نه مراد ”نُور“ دې، نو دا ټول څیزونه **الله** عَزَّوَجَلَّ خپلو بندګانو ته په دې میاشت کښې ورکوي، دا هغه میاشت ده چه په دې کښې د نیکو دروازې بیرته کیږي، برکتونونه راوَرِیږي، خَطاګانې مُعاف کیږي، او د ګناهونو کفاره ادا کیږي، او خَیْرُ الْبَرِیَّه، سَیِّدُ الْوَرٰی، جَنابِ **مُحَمَّدِ مُصْطَفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شریف په کثرت سره وَئیلې کیږي. او دا په نَبِـیِّ **مُختار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د دُرُود شریف وَئیلو میاشت ده. (غنية الطالبين ج1 ص341، 342 دار الکتب العلمیه بیروت)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د صحابه کِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان جَذبَه

**حضرت** سیِّدُنا اَنس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د شَعبَان د میاشتې د ښکاره کیدو سره به صحابه کِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان د تِلاوتِ قرآنِ مجید طرف ته ډیر مُتوَجِّه شو، د خپلو مالونو زکوٰة به ئې ویستلو، چه غریبانان او مِسکینان مسلمانان د رَمَضانُ المُبارَك د روژو تیارې اوکړې شي، بادشاهانو به قیدیان را اوغوښتل، په چا به چه حد قائم کیدو، سزا به ئې ورکړه. او نور چه د چا د پاره به مناسب وه هغه به ئې ازاد کړل. سوداګرو به خپل قرضونه ادا کړل او د نورو نه به ئې خپل قرضونه واخستل. (هم داسې به ئې د رَمَضانُ المُبارَك د راتلو نه مخکښې خپل ځان وَزګارولو) او د رَمَضان شریف د میاشت د ښکاره کیدو سره به

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

ئي غسل اوکړو. او (ځيني به) [د پوره مياشتې د پاره] په اِعتِکاف کښې کښيناستل. (غنية الطالبين ج1 ص341)

## د اوسنو مسلمانانو جذبه

**سُبحٰنَ الله** عَزَّوَجَلَّ! د **مخکښينو** مسلمانانو به د عِبادت سره ځومره شوق وو، خو افسوس! د نن صبا د مسلمانانو زيات شوق د مال د ګټلو دي. مخکښني مَدني سوچ لرونکي مسلمانانو به د **بَرَکتونو** په ورځو کښې د رَبُّ الانام عَزَّوَجَلَّ ډير زيات عِبادت کولو او د هغه د قُرب [نيزدې والي] حاصلولو کوششونه به ئي کول، او د نن صبا مسلمانان په مُبارَکو ورځو خاص طور د روژې په مياشت کښې د دُنيا دَ ذليل دولت ګټلو د پاره د نوي نوي ترکيبونو جوړولو سوچونه کوي. **الله** عَزَّوَجَلَّ په خپلو بندګانو باندې مِهربانه کيږي او د نيکو اَجر و ثواب ښه ډير زياتوي، خو د دُنيا د دولت سره **محبت** کونکي خلق په رَمَضانُ المُبارَك کښې د ځيزونو نرخونه زياتوي او خپل مسلمانان ورونړه لوټ کوي. په کروړونو افسوس! مسلمانانو سره د خيرخواهئ [يعني ښيګړې] جذبه په ختميدو ښکاري.

اے خاصۂ خاصانِ رُسُل وقتِ دُعا ہے
اُمّت پہ تِری آ کے عَجَب وَقت پڑا ہے
جو دین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے
پردیس میں وہ آج غریبُ الغُرَبا ہے

فَریاد ہے اے کِشتئِ اُمّت کے نگہبان
بیڑا یہ تباہی کے قریب آن لگا ہے

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عبدالرزاق)

اے په رسولانو کښې خاص رسوله! د دُعا وخت دې،
ستاسو په اُمَّت باندې عجيبه وخت راغلې دې.
کوم دِين چه په لوئ شان سره د وطن نه وَتلې وو،
په پرديس کښې نن د هغې هيڅ تپوس نشته.
اے د اُمَّت د کِشتئ نګهبانه! فرياد دې،
دا کِشتئ تباهئ [غرقيدو] ته نيزدې شوې ده.

## د نفلي روژو خوښه کړې شوې مياشت

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** زمونږ د زړه ارام، سرورِ کونَين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د **شَعبَان** په مياشت کښې زياتې روژې نيول خوښول. حضرت سيِّدُنا عَبدُ الله بن اَبِی قَيس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې، هغوئ د اُمُّ المُؤمِنِين حضرت سيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه اوريدلې وو: زما د سرتاج، صاحِبِ معراج صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوښه کړې شوې مياشت شَعبَانُ المُعَظَّم وه، چه په دې کښې به ئې روژې نيولې بيا به ئې دا د رَمَضانُ المُبارَك سره يو ځائ کوله.

(ابو داود ج 2 ص 476 رقم الحديث 2431 داراحياء التراث العربي بيروت)

## خلق د شَعبَان نه غافل دې

**حضرت** سيِّدُنا اُسامه بن زيد رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه وينم چه څنګه تاسو په **شَعبَان** کښې روژې نيسئ داسې ئې په بله يوه مياشت کښې هم نه نيسئ؟ اوئې

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو هغه په خلقو کښې ډیر کنجوس(شوم) دې. (ترغیب وترهیب)

فرمائیل: د **رَجَب** او **رَمَضان** په مینځ کښې دا میاشت ده، خلق د دې نه غافله دي. په دې کښې د خلقو اعمال د اللّٰه رَبُّ العٰلَمِین عَزَّوَجَلَّ طرف ته اوچتولې شي او زما دا خوښه ده چه زما عمل په داسې حال کښې اوچت کړې شي چه ما روژه نیولې وي.

(نسائي ج 4 ص 387 حدیث 2354 دارالکتب العلمیه بیروت)

## د مرګیدونکو د فهرست جوړولو میاشت

**اُمُّ الْمُؤمِنِین** حضرت سیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا فرمائي: تاجدارِ رسالَت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د پوره شَعبَان روژې نیولې. هغوئي فرمائي، چه ما عرض اوکړو: یارَسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آیا په ټولو میاشتو کښې ستاسو په نِزد ټولو نه غوره د شَعْبَان روژې نیول دي؟ نو د رَبُّ العِباد محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد او فرمائیل: [په دې شپه] اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په دې کال کښې مړ کیدونکې هر یو وجود [یعني د هر ساه لرونکې د مرګ وخت] لیکي او زما دا خوښه ده چه زما د رُخصت وخت راشي او زما روژه وي. (مسند ابو یعلی ج 4 ص 277 حدیث 4890 دارالکتب العلمیة بیروت)

## آقا به د شَعبان زیاتې روژې نیولې

**بُخاري** شریف کښې دي: حضرت سیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا فرمائي چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د **شَعبَان** نه زیاتې په بله یوه میاشت کښې هم روژې نه نیولې بلکه د ټول **شَعبَان** روژې به ئې

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

نيولې او فرمائيل به ئې: د خپل طاقت مطابِق عمل کوئ، ځکه چه الله عَزَّوَجَلَّ تر هغې پورې خپل فضل نه اودروي تر څو چه تاسو ستړي شوي نه ئې. (صحیح بخاری ج 1 ص 648 حدیث 1970 دار الکتب العلمیة بیروت)

## د حديثِ پاك شرح

**شارِح بُخاري حضرت** علامه مفتي **محمد شريف الحق** امجدي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْقَوِی د دې حديث پاك لاندې ليکي: مراد دا دې چه د شَعبَان په اکثر ورځو کښې به ئې روژې نيولې. دا ئې تغليباً (يعني د غلبې او زيات والي په لحاظ) د کُل (يعني د ټولې مياشتې د روژو) سره تعبير کړو. لکه دا وئيلې کيږي: "فلانکي ټوله شپه عبادت اوکړو" حالانکه هغه به په دې شپه کښې ډوډئ هم خوړلې وي او د ضرورتونو نه به هم فارغ شوې وي، دلته ئې تغليباً [يعني د ډير والي په وجه] اکثر ته کُل او وئيل: نور فرمائي: د دې حديث نه معلومه شوه چه په شَعبان کښې چه خوك طاقت لري نو د زياتو نه زياتې روژې دِ اونيسي. البته چه خوك کمزوري وي هغه دِ ئې نه نيسي ځکه چه د دې په وجه به د **رَمَضانُ المُبارَك** په روژو اثر پريوځي، هم دا مقصد او مراد دې د هغه احاديثو په کومو کښې چه فرمائيلې شوي دي چه د شعبان د نيمې نه وروسته روژې مه نيسئ. (ترمذي حديث 738) (نزهة القاری ج 3 ص 377، 380 فريد بك اسٹال لاهور)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (ابو يعلٰی)

# په دعوتِ اسلامي کښې د روژو سپرلي

**د دعوتِ اِسلامي** د اشاعتي اِدارې مكتبةُ المدينه چاپ شوي 1548 صفحو باندې مشتمل کتاب "**فيضانِ سُنَّت**" (جلد اول) صفحه 1379 کښې دي: حُجَّةُ الاسلام حضرت سَيِّدُنا امام **محمّد** بن **محمّد** بن **محمّد** غزالي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْوَالِي فرمائي: په ذِکر کړې شوي حديثِ پاك کښې د پوره **شَعبَان المُعَظّم** د مياشتې د روژو نه مراد د اکثر شَعبَانُ المُعَظَّم (يعني د مياشتې د نيمې نه زياتې) روژې دي. (مكاشفة القلوب ص 303) که څوك د پوره **شَعبَان المُعَظّم** روژې نيول غواړي نو د هغه د پاره منع هم نه دي. **اَلْحَمْدُلِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د تبليغِ قُرآن و سُنّت عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اِسلامي** د ډيرو اسلامي وروڼړو او اسلامي خويندو د **رَجَبُ المُرَجّب** او **شعبانُ المُعظّم** په دواړو مياشتو کښې د روژو نيولو ترکيب وي او مسلسل د روژو نيولو سره دوئ د رمضانُ المبارك سره يو ځائ شي.

# د شَعبَان اکثر روژې نيول سنت دي

**اُمُّ المُؤمِنِين** حضرت سِيّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فرمائي: ما حُضُورِ اَکرَم، نُورِ مُجَسَّم، شاهِ بني آدم، رَسُولِ مُحتَشَم، شافِعِ اُمَم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **شَعبَان** نه زيات په نورو مياشتو کښې په روژو نيولو نه دې ليدلې. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به سِوا د يو څو ورځو نه د پوره مياشتې روژې نيولې. (سنن ترمذى ج2 ص182 حديث 736 دار الفكر بيروت)

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شريف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کنزالعمال)

تِری سنّتوں پہ چل کر مری روح جب نکل کر
چلے تم گلے لگانا مدنی مدینے والے

چه په سُنّت ستاسو روان يم روح مې اوځي
خپلې غاړې ته مې تينګ کړئ مدني مديني والا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خير بنيګڼو شپې

**اُمُّ المُؤمِنِين** حضرت سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي: ما نَبِيِّ کريم، رَؤُوف رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: الله عَزَّوَجَلَّ (خاص طور) په څلورو شپو کښې دخيرونو دروازې بيرته کوي(1) د لوئ اَختر شپه (2) د وړوکي اختر شپه (3) د **شَعبَان پينځلسمه شپه** چه په دې شپه کښې د **مړکيدونکو** نومونه او د خلقو **رِزق** او (په دې کال کښې) د **حج** کونکو نومونه ليکلي کيږي (4) د عرفې (يعني د 8 او9 ذوالحجه مينځنۍ) شپه د سحر د **اذانه** پورې.

(الدرالمنثور ج7 ص402 دار الفکر بيروت)

## نازکي فيصلې

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د شَعبَان پينځلسمه شپه ځومره نازکه ده! معلومه نه ده چه د چا په قِسمَت کښې به څه ليکلي کيږي؟ ځيني وخت بنده په غفلت کښې پروت وي او د هغه په باره کښې ډير ډير څه شوي وي، په "**غُنیَةُ الطَّالِبِين**" کښې دي: ډير کفنونه وينځلي

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره درود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دُګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

شوي تيار وي خو كفن اغوستونكي په بازارونو كښې ګرځي. ډير خلق داسې وي چه د هغوئ **قبرونه** كنستي شوي تيار وي خو په هغې كښې خخيدونكي په خوشحالو كښې مست وي، ځينې خلق **خاندې** خو د هغوئ د مرګ وخت نيزدې شوې وي. د ځينې **كورونو** تعمير پوره شوې وي خو ورسره د كور د مالِك ژوند هم پوره شوې وي.

(غنية الطالبين ج 1 ص 348)

آگاہ اپنی موت سے کوئی بَشَر نہیں
سامان سو برس کا ہے پَل کی خبر نہیں

د خپل مرګه خبردار يو بشر نه دې
د سل كالو تيارې كړي د ساعته خبر نه دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ډيرو ګنهګارانو بخښنه كيږي خو.....

**حضرت** سيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا نه روايت دې، حُضُور سراپانور، فيضِ ګنجور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ماته جبريل (عَلَیْہِ السَّلَام) راغې او ئې وئيل: دا د شَعبَان پينځلسمه شپه ده، په دې كښې الله عَزَّوَجَلَّ د دوزخ نه دومره [خلق] ازادوي څومره چه د بَنِي كلب د چيلو [بيزو] ويښته دي، خو **كافِر** او "دُښمني كونكي" خپلوي ختمونكي، **كپړه** [د ګيټو يعني پړكو نه لاندې] راښكونكي، **د مور او پلار نافرماني كونكي** او د شرابو نشه كونكي طرف ته د رَحمت نظر نه كوي. (شعب

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (ابو يعلٰی)

الايمان ج 3 ص 384 حديث 3837 دارالکتب العلمية بيروت) (په حديثِ پاك کښې چه د ”کپړه راښکونکي“ کوم بيان دې، د دې نه مراد هغه خلق دي چه د تَڪَبُّر په وجه د ګيټو [پړکو] نه لاندې خپل تهبند يا د پرتوګ پينځه لاندې ساتي) د کرورونو **حَنبَليانو** لوئ پيشوا حضرت سيِّدُنا امام احمد بن حَنبَل رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د **حضرت سيِّدُنا عبدُ الله بن عَمرو** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُمَا نه چه کوم روايت نقل کړې دې، په هغې کښې د **قاتِل** ذِکر هم دې. (مسند امام احمد ج 2 ص 589 حديث 6653 دارالفکر بيروت)

حضرت سَيِّدُنا کثير بن مُرَّه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه روايت دې چه تاجدارِ رِسالت، سراپا رَحمت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: الله عَزَّوَجَلَّ د شَعبَان په پينځلسمه شپه کښې د زمکې د ټولو خلقو بخښنه کوي سِوا د مُشرِك او دُښمني کونکي نه. (شعب الايمان ج 3 ص 381 حديث 3830 دارالکتب العلمية بيروت)

## د حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام دُعا

**اَمِيرُ المُؤمِنِين،** حضرت مَولٰی مُشکِل کُشا، سَيِّدُنا عَلِيُّ المُرتضٰی شِيرِ خُدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجۡهَهُ الۡکَرِيۡم به د شَعبَانُ المُعَظَّم په پينځلسمه شپه يعني شبِ بَراءَت کښې اکثر بهر ته تشريف راوړلو. يو ځل ئې هم دغه شان په **شبِ بَراءَت** کښې بهر ته تشريف راوړو او د اسمان طرف ته ئې نظر اوچت کړو او اوئې فرمائيل: يو ځل د **الله** عَزَّوَجَلَّ نبی حضرت سيِّدُنا **داؤد** عَلٰی نَبِيِّنَا وَ عَلَيۡهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د **شَعبَان** په پينځلسمه شپه اسمان طرف ته اوکتل او اوئې فرمائيل: دا هغه وخت دې چه په دې وخت کښې کوم يو کس

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاویږي۔ (مجمع الزوائد)

هم چه څه دُعا د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ نه اوغوښتله **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د هغه دُعا قبوله کړه، او چا چه بخښنه اوغوښتله **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د هغه بخښنه اوکړه، په شرط د دې چه دُعا کونکي **عُشَّار** (یعني په ظُلم سره ټیکس اخستونکي)، **جادوګر**، **کاهِن** او **باجا غږونکي** نه وي، بیا ئې دا دُعا اوکړه:

اَللّٰھُمَّ رَبَّ دَاوٗدَ اغْفِرْ لِمَنْ دَعَاكَ فِیْ ھٰذِہِ اللَّیْلَةِ اَوِ اسْتَغْفَرَكَ فِیْھَا

**یعني اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! اے د داود پروردګاره! څوك چه په دې شپه ستا نه دُعا اوغواړي یا بخښنه اوغواړي ته هغه اوبخښې.**

(لَطَائِفُ الْمَعارِف لابن رجب الحنبلی ج 1 ص 137 باختصار ، دار ابن حزم بیروت)

ہر خطا تُو درگزر کر بیکس و مجبور کی
یاالٰہی! مغفرت کر بیکس و مجبور کی (وسائل بخشش ص 43)

در ګزر کړه هر خطا د بې وسه او د مجبوره
کړې بخښنه اے اللّٰه د بې وسه او د مجبوره

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## محرومه خلق

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** شبِ بَراءَت ډیره اهمه شپه ده، په هیڅ صورت کښې هم دا په غفلت [یعني بې پرواهۍ] کښې مه تیروئ، په دې شپه خاص طور د رحمتونو تیز باران وریږي. په دې مُبارَکه شپه کښې اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د "بنی کلب" د چیلو د ویښتو نه هم زیات خلق د دوزخ نه ازادوي. په کتابونو کښې لیکلي شوي دي: "قَبِیله بنی کلب" به د عربو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

په قبيلو کښې د ټولو نه زياتې چيلۍ ساتلې. آه! څه بدنصيبه داسې هم دي چه په هغوئ باندې په دې **شبِ بَراءَت** يعنې د خلاصې موندلو په دې شپه کښې هم د نه بخښنې وَعيد [سخت حکم] راغلې دې. **حضرت** سيِّدُنا امام **بَيهَقى** شافعى عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِى په ''فَضَائِلُ الاَوقات'' کښې نقل کوي: د **رَسُولِ اَکرَم، نُورِ مُجَسَّم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عبرت نشان دې: د شپږو کسانو به په دې شپه بخښنه نه کيږي: (1) د شرابو عادت لرونکې (2) د مور او پلار نافرمانه (3) د زنا عادت لرونکې (4) تَعَلُّق پريښودونکې (5) تصويرونه جوړونکې(6) چغل خور.

(فضائل الاوقات ج 1 ص 130 حديث 27 مكتبة المنارة مكة المكرمه)

هم دغسې په کاهِن [يعنې د ښاپيرو په ذريعه غيب ښودونکې]، جادوګر، په تَکَبُّر سره خپل تهبند يا د پرتوګ پينځې د ګيټو [پړکو] نه لاندې ساتونکې او د کوم يو مسلمان سره بُغض او کينه [يعنې په زړه کښې پټه دُښمني] ساتونکې باندې په دې شپه د بخښنې د نيك بختيا نه د محرومه کيدو وَعيد دې، چنانچه ټولو مسلمانانو ته پکار دي چه په ذِکر کړې شوو ګناهونو کښې که **مَعَاذَاللّٰه** په يوه ګناه کښې هم اَخته وي نو **خاص طور** د هغې ګناه نه او **عام طور** د هرې ګناه نه دِ د **شبِ بَراءَت** د راتلو نه مخکښې بلکه نن او اوس په رښتيني توبه اوباسي، او که د بندګانو حق ئې وهلې وي نو د توبې سره د هغوئ نه د مُعا فئ غوښتلو او تلافئ [يعنې د حق ادا] کولو ترکيب جوړ کړئ.

# د اِمامِ اهلِسُنَّت پیغام ټولو مسلمانانو ته

زما آقا اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسُنّت، وَلِیِّ نِعمت، عَظِیمُ البَرَکَت، عظِیمُ المَرتَبَت، پتنګ د شمعِ رِسالت، مُجَدِّدِ دِین و مِلَّت، حامِیِٔ سُنّت، ماحِیِٔ بِدعت، عالِمِ شَرِیعَت، پیرِ طرِیقت، باعِثِ خَیر و بَرَکت، د حَنَفي مذهب عظیم عالِم او مُفتي حضرتِ عَلّامه مولانا اَلحَاج اَلحافِظ، اَلقارِی اَلشَّاه اِمام اَحمَد رَضا خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن خپل یو عقیدت مند ته د **شبِ بَراءَت** د راتلو نه مخکښ **د** توبه او مُعافي تَلافي کولو په حقله یو مکتوب لیږلې وو هغه د فائِده مند کیدو په وجه [ستاسو] په خدمت کښ حاضر دې. چنانچه په"کُلِّیات مَکاتِیبِ رَضا" صفحه **356** تا **357** کښ دي: شبِ بَراءَت [د شَعبَانُ المُعَظَّم پینځلسمه شپه] نیزدې ده، په دې شپه د ټولو بندګانو عَمَلونه د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښ پیش کیږي. مولا عَزَّوَجَلَّ په بَرَکت د حُضُورِ پرنُور، شافِعِ یَومُ النُّشور صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُسلمانانو ګناهونه مُعاف کوي خو یو څو،[د بخښنې نه محرومه وي] په هغې کښ هغه دوه مسلمانان هم دي چه په دُنیاوي وجه د یو بل نه **خفه** وي، فرمائي: "دوئ پریږدئ، ترڅو چه ئې په خپل مینځ کښ صلح نه وي کړې." لِهٰذا اَهلِ سُنَّت له پکار دي چه خومره کیدې شي د **14 شَعبَانُ** المُعَظَّم د نمر پریوتو نه مخکښ په خپل مینځ کښ د یو بل سره صفائي اوکړې. د یو بل حقونه ادا کړې یا ئې پرې مُعاف کړئ چه د الله عَزَّوَجَلَّ په حُکم سره د حقوقُ العِباد نه اعمال نامې خالي د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښ پیش شي. د الله عَزَّوَجَلَّ د حَقونو د پاره رِښتیني توبه

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

پوره ده. (حديث پاك كښې دي) اَلتَّآئِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَ نْبَ لَهٗ (يعنې د ګناه نه توبه كونكې داسې دي لكه هغه چه هډو ګناه كړې نه وي (ابن ماجه حديث 4250)) په داسې حالت كښې د الله عَزَّوَجَلَّ په حُكم ضرور د بخښنې پوره اُمِّيد شته دې، شرط دادې چه عقيده ئې صحيح وي. وَهُوَالْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ (او هغه ګناه معاف كونكې رحم كونكې دې) د خپلو ورونړو سره د صلح كولو او د حقونو معاف كولو دا ټوله طريقه د الله عَزَّوَجَلَّ په فضل سره د ډيرو كلونو نه جاري ده، اُمِّيد دې چه تاسو ئې هم د خپلې علاقې په مسلمانانو كښې جاري كړېئ او: مَنْ سَنَّ فِي الْاِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهٗ اَجْرُهَا وَاَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا يَنْقُصُ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْءٌ (يعنې څوك چه په اسلام كښې ښه لاره اوباسي، د هغه د پاره د هغې ثواب او د قيامته پورې چه څوك په هغې عمل كوي د دې ټولو ثواب هميشه د ده په اعمال نامه كښې ليكلې شي او د هغوئ [يعنې عمل كونكو] په ثواب كښې به څه كمې نه راځي) په شان شئ او د دې فقير د پاره د معافئ او د دوارو جهانو د خير دُعا اوغواړئ. فقير ستاسو دپاره دُعا كوي،او (اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ) كوي به ئې. ټول مسلمانان دِ پوهه كړې شي چه هلته (يعنې د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه كښې) نه خالي ژبه كټلې شي او نه نِفاق خوښولې شي، صلح او معافي دِ په رِښتيني زړه سره وي.

وَالسَّلام

**فَقير اَحمدرضاقادری عُفِیَ عَنْهُ از بريلی**

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاویږي۔ (مجمع الزوائد)

# د پینځلسم شَعْبَان روژه

حضرت سَیِّدُنا عَلِیُّ المُرتَضٰی شِیرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه روایت دي چه د نَبِیِّ کریم، رَؤُوفٌ رَّحِیم عَلَيْهِ اَفْضَلُ الصَّلٰوةِ وَالتَّسْلِيْم فرمانِ عظیم دي: چه کله د پینځلسم شَعبَان شپه راشي نو په دې کښې قیام (یعني عِبادت) اوکړئ او د ورځې روژه اونیسئ، بیشکه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نمر پریوتو سره په دُنیاوي اسمان باندې خاص تجلي کوي او ارشاد فرمائي: "څوك شته چه زما نه بخښنه اوغواړي چه زه هغه اوبخښم! څوك شته چه زما نه رِزق اوغواړي چه زه هغه ته رزق ورکړم! څوك شته په مصیبت کښې اَخته کس چه زه هغه ته عافیت [یعني خیر] ورکړم، شته دې څوك داسې! شته دې څوك داسې! او دا د هغه وخته پورې فرمائي چه **سحر** را اوخیژي."

(سُنَنِ اِبنِ ماجه ج 2 ص 160 حدیث 1388 دارالمعرفة بیروت)

# د فائدې خبره

په **شبِ بَراءَت** کښې اعمال نامې بدلیږي که کیدې شي نو د 14 **شَعبَانُ المُعَظَّم** روژه هم اونیسئ چه د اعمال نامې په آخیرئ ورځ هم روژه وي. په **14 شَعبَان** د مازدیګر مونځ په جمات کښې د جُمعې سره ادا کړئ او هم هلته نفلي اِعتکاف اوکړئ او د ماښام د مانځه د انتِظار په نیت په جمات کښې حصار شئ چه د اعمال نامو بدلیدو په اخیري وخت کښې په جمات کښې د حاضرئ، د اِعتِکاف او د مانځه د انتظار وغیره ثواب اولیکلې شي. بلکه کاش! چه ټوله شپه په عبادت کښې تیره شي.

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په مابانديې درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

## شنه پرچه

**اَمِيرُ الْمُؤمِنِين،** حضرت سَيِّدُنا عُمَرُبنُ عَبدُالعزيز رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ يو ځل د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په پينځلسمه شپه يعنې په شبِ بَراءَت کښې په عِبادت کښې مصروف وو. سر ئې اوچت کړو نو يوه شنه پرچه ئې اوليدله چه د هغې نُور د اسمانه پورې خور شوې وو، په هغې ليکلي شوي وو **هٰذِہٖ بَرَاءَۃٌ مِّنَ النَّارِ مِنَ الْمَلِكِ الْعَزِيْزِ لِعَبْدِہٖ عُمَرَبْنِ عَبْدِالْعَزِيْزِ يعني د خدائے مالك و غالِب د طرف نه دا "د دوزخ د اور نه د ازادئ پيغام دې چه د هغه بنده عُمربن عبدُ العزيز ته عطا شوې دې."** (تفسیر روح البیان ج 8 ص 402 کوئٹه)

**سُبحٰنَ اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ خوږو خوږ واسلامي ورونړو! په دې حکايت کښې چه ښکاره شوه د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين، حضرت سَيِّدُنا عُمَرُبنُ عَبدُ العزيز رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عظمت او فضيلت معلوم شوې دې دغسې پکښې د **شبِ بَراءَت** اوچت والې او بُزُرګي هم ښکاري، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دا مُبارَکه شپه د جَهَنَّم د شُعلي وهونکې اور نه د **خلاصې** موندلو شپه ده، په دې وجه دې ته شبِ بَراءَت [يعني د خلاصې شپه] وائي.

## د ماښام نه پس شپږ نفلونه

د اوليائے کِرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام د معمولاتو نه دي چه [په دې شپه] د ماښام د فرضو او سنتو وغيره نه پس شپږ رکعته نفل دوه دوه رکعته ادا کړې شي. وړومبي دوو رکعتو نه مخکښې دا نيت اوکړئ: "**ياالله** عَزَّوَجَلَّ

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

د دې دوو ركعتو په بَرَكت سره ما ته ډير عُمر سره د خيره راكړې“، د دويم دوو ركعتو نه مخكښ دا نيت اوكړئ: ”ياالله عَزَّوَجَلَّ د دې دوو ركعتو په بَرَكت سره د مصيبتونو نه زما حفاظت اوكړې.“ د دريم دوو ركعتو نه مخكښ دا نيت اوكړئ: ”ياالله عَزَّوَجَلَّ د دې دوو ركعتو په بَرَكت سره ما د خپل ځان نه سِوا د بل چا مُحتاجه مه كړې.“ په دې شپږو ركعتو كښ د سُوْرَۃُ الْفَاتِحَه نه پس چه كوم سورت غواړئ لوستې شئ، غوره داده چه په هر ركعت كښ د سُوْرَۃُ الْفَاتِحَه نه بعد درې ځله سُوْرَۃُ الْاِخْلَاص اولولئ. د هر دوو ركعتو نه پس 21 ځله قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد (پوره سورت) يا يو ځل سُوْرَہ يٰسٓ شريف اولولئ، كه كيدې شي نو دواړه اولولئ. داسې هم كيدې شي چه يو اسلامي ورور دِ په اوچت اواز يٰسٓ شريف لولي او نور دِ ئې په خاموشئ سره ښه په غور اوري. په دې كښ داخيال كوئ چه بل خوك په دې وخت كښ په ژبه يٰسٓ شريف بلكه هيڅ هم نه وائي او دا مسئله ښه ياده ساتئ چه كله په اوچت اواز قرآن مجيد لوستلې كيږي، كوم خلق چه د اوريدو د پاره موجود وي په هغوئ دا فرضِ عين دي چه چپ اوسي او په غور سره ئې اوري. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د شپې د شروع كيدو نه مخكښ به د ثواب انبار جوړ شي. هر ځل د يٰسٓ شريف نه وروسته ”دُعائے نصفِ شَعبَان“ هم لولئ:

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طبراني)

# دُعائے نصفِ شعبانُ المُعَظَّم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَللّٰهُمَّ يَا ذَا الْمَنِّ وَلَا يُمَنُّ عَلَيْهِ ؕ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ؕ يَا ذَا

الطَّوْلِ وَالْاِنْعَامِ ؕ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ ظَهْرُ اللَّاجِيْنَ ؕ وَجَارُ الْمُسْتَجِيْرِيْنَ

وَاَمَانُ الْخَآئِفِيْنَ ؕ اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ كَتَبْتَنِيْ عِنْدَكَ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ

شَقِيًّا اَوْمَحْرُوْمًا اَوْمَطْرُوْدًا اَوْمُقَتَّرًا عَلَيَّ فِي الرِّزْقِ فَامْحُ اللّٰهُمَّ

بِفَضْلِكَ شَقَاوَتِيْ وَحِرْمَانِيْ وَطَرْدِيْ وَاقْتِتَارِ رِزْقِيْ ؕ وَاَثْبِتْنِيْ

عِنْدَكَ فِيْ اُمِّ الْكِتٰبِ سَعِيْدًا مَّرْزُوْقًا مُّوَفَّقًا لِّلْخَيْرَاتِ ؕ فَاِنَّكَ

قُلْتَ وَقَوْلُكَ الْحَقُّ فِيْ كِتَابِكَ الْمُنْزَّلِ ؕ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّكَ الْمُرْسَلِ ؕ

﴿يَمْحُوا اللهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۚۖ وَعِنْدَهٗٓ اُمُّ الْكِتٰبِ ﴿۳۹﴾﴾ اِلٰهِيْ

بِالتَّجَلِّي الْاَعْظَمِ ؕ فِيْ لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَهْرِ شَعْبَانَ الْمُكَرَّمِ ؕ اَلَّتِيْ

يُفْرَقُ فِيْهَا كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ وَّيُبْرَمُ ؕ اَنْ تَكْشِفَ عَنَّا مِنَ الْبَلَآءِ

وَالْبَلْوَآءِ مَا نَعْلَمُ وَمَا لَا نَعْلَمُ ؕ وَاَنْتَ بِهٖ اَعْلَمُ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعَزُّ

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

الْاَكْرَمُ ط وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ ط وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! اے احسان کولو والا چه په چا [يعني په تا] احسان نه کيږي! اے د لوئ شان او شوکت والا! اے د فضل او اِنعام والا! ستا نه سِوا بل د عِبادت لائق نشته. ته د پريشان حالو مددکونکي ئې، پناه غوښتونکو ته پناه او يريدونکو ته اَمن ورکونکي ئې. اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! که تا په خپل اُمُّ الْکِتاب (يعني لوحِ محفوظ) کښې زه بدبخته، محرومه، شړلي شوي او په رِزق کښې تنګي راکړې شوې ليکلي يم نو اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! په خپل فضل سره زما بدبختي، محرومي، ذِلّت او په رِزق کښې تنګي لرې کړې او په خپل اُمُّ الْکِتاب کښې ما خوش بخته، (فراخه) رِزق ورکړې شوي او د نيکو توفيق ورکړې شوي اوليکې، چه تا په خپل نازِل کړې شوي کِتاب کښې ستا د راليږلي شوي نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژبه مبارکه باندې فرمائيلي دي او ستا (دا) فرمائيل حق دي: "**ترجمه کنزالايمان:** اللّٰه چه څه غواړي ورانوي ئې او ثابت کوي ئې، او اصل ليك د هغه سره دې." (پ13، الرعد: 39) اے خدايا عَزَّوَجَلَّ! د **تَجَلِّیِ اَعظَم** [د لوئې انوارو] په وسيله سره کومه چه د شَعبَانُ الْمُعَظَّم په نِيمه [پينځلسمه شپه] کښې ده چه په هغې کښې تقسيميږي هر د حکمت کار او فيصله ئې اوشي. **(يا اللّٰه)** زمونږ نه افتونه لرې کړې چه کوم مونږ پيژنو او کوم نه پيژنو حالانکه

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

تا ته دا د هر چا نه زيات معلوم دي. بې شکه ته د ټولو نه زيات عزيز او عِزَّت والا ئې. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ زمونږ په سردار محمد صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې او د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اولاد او اصحابو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان باندې درودو سلام اوليږي. ټول صفتونه د ټولو جهانونو ساتونکي اللّٰه عَزَّوَجَلَّ لره دي.

## د سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ مدني عرضونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ د ډيرو کلونو نه په شبِ بَراءَت کښې د بيان شوې طريقې مطابق د شپږو نفلونو او د تِلاوَت وغيره معمول دې. د ماښام نه پس دا عِبادت نفلي دې، فرض او واجب نه دې او د ماښام د مانځه نه پس د نفلونو او د تِلاوَت کولو په شريعت کښې چرته مَنع هم نه ده راغلې. حضرت عَلّامه اِبنِ رجب حَنبلي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِى ليکي: د شام په جَلِيلُ القدر تابِعِينو کښې به مَثلاً حضرت سيِّدُنا خالِد بن مَعدان، حضرت سيِّدُنا مَکحول، حضرت سيِّدُنا لقمان بن عامِر رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی وغيره د شبِ بَراءَت ډير تعظيم کولو. او په دې کښې به ئې ښه عِبادت کولو، د دوئ نه نورو مسلمانانو د دې مبارَکې شپې تعظيم زده کړو. (لَطائِفُ الْمَعارِف ج 1 ص 145) د فِقه حنفی معتبر کتاب "دُرِّ مُختار" کښې دي: په شبِ بَراءَت کښې (د عبادت کولو د پاره) شپه رونړول مُستَحَب دي. (ټوله شپه رونړولو ته شب بيداري نه وائي) په اکثر [زياتې] حصې کښې وِيښ پاتې کيدل شب بيداري ده. (دُرِّمُختار ج 2 ص 568، بہارِ شریعت ج 1 ص 679) مکتبۃُ المدینہ باب المدینہ کراچی)

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما یو ځل درود شریف اولوستو **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

**مدني عرض!** كه ممكنه وي نو ټول اسلامي ورونړه دِ په خپل خپل جماتونو كښې د ماښام د مانځه نه پس د شپږو نفلونو وغيره اهتمام اوكړي او ډير ثوابونه دِ حاصل كړي. اسلامي خويندې دِ په خپلو كورونو كښې دا عمل اوكړي.

## ټول كال د جادو نه حِفاظَت

د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي اِدارې مكتبةُ المدينه چاپ شوي د 170 صفحو په كتاب "**اِسلامی زندگی**" صفحه 134 كښې دي: كه په دې شپه (يعني شبِ بَراءَت) د بيرې (د وَنې) ووه پاڼړو له په اوبو كښې جوش وركړې (چه كله اوبه د لامبلو قابلې شي نو) غسل پرې اوكړې اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ټول كال به د جادو د اثر نه په حفاظت كښې اوسې.

## شبِ بَراءَت او د قبرونو زيارت

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرت سيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي: ما يوه شپه سرورِ كائنات، شاهِ موجودات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او نه ليدو، نو په بقيعِ پاك كښې مې اوموندلو، آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: آيا تا ته د دې خبرې يره وه چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ او د هغه رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ستا حق تلفي كوي؟ ما عرض اوكړو: **يارَسُولَ اللّٰه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما دا خيال اوكړو چه شايد تاسو په ازواجِ مُطَهَّراتو [يعني خپلو بيبيانو] كښې د كومې يوې خوا ته تشريف وړې وي. نو اوئې فرمائيل: بې شكه **اللّٰه تعالٰی** د

شَعبَانُ المُعَظَّم په پينځلسمه شپه دُنياوي اسمان باندې تَجَلّي فرمائي، پس د قبِيله بني كَلب د چيلو د ويښتو نه هم زيات ګنهګاران بخښي".

(سُنَنِ تِرمِذی ج 2 ص183 حديث 739 دارالفكر بيروت)

## د آتش بازئ ايجاد كونكې څوك دې؟

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ شبِ بَراءَت د دوزخ د اور نه د **خلاصې** موندلو شپه ده. خو په كروړونو افسوس! د مسلمانانو يو ګڼړ شمير د اور نه د خلاصې حاصلولو په ځائ ځپله پيسې خرڇ كوي او د اور يعني د **آتش بازئ** [يعني د اور الوځولو] سامان پرې اخلي او ډيرې پټاخئ چوِي او د دې مُقَدَّسې شپې تَقَدُّس [يعني حُرمت] بربادوي. مُفَسِّرِ شَهير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتی احمد يار خان عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللّٰهِ الۡحَنَّان په خپل مختصر كتاب "اسلامی زندگی" كښ فرمائي: "دا شپه په ګناه كښ تِيرول ډيره لويه محرومي ده. د **آتش بازئ** مُتعَلِّق مشهور دا دې چه دا نمرود بادشاه ايجاد كړې وه چه هغه حضرت سيِّدُنا اِبراهيم **خليل الله** عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيۡهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په اور كښ واچولو او اور ګلِ ګلزار شو. نو د هغه [نمرود] كسانو د اور پنډوسونه [بالونه] جوړ كړل او هغې ته ئې اور اولګولو او د حضرت سيِّدُنا اِبراهيم خليل الله عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيۡهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام طرف ته ئې غوزار كړل. (اسلامی زندگی ص77)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به دَ قیامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

# په شبِ بَراءَت کښې د آتش بازئ رواج حرام دي

**افسوس!** په شبِ بَراءَت کښې د "آتش بازي" ناپاکه رَسم اوس په مسلمانانو کښې مسلسل زیاتیږي. په "اسلامی زندگی"کښې دي: د مسلمانانو په لکونو روپۍ هر کال په دې رَسم بربادیږي او هر کال دا خبرونه راځي چه په فلانکي ځائ کښې دومره کورونه د آتش بازئ په وجه اوسوزیدل او دومره کسان اوسوزیدل او دومره مړه شو. په دې کښې د خپل ځان خطره، د مال بربادي او د کورونو سوزیدو اندیښنه ده، او خپل مال ته د خپله لاسه اور لګول او بیا د خدائ پاك د نافرمانئ مصیبت په سر اچول دي. د خدائ عَزَّوَجَلَّ د پاره د دې بیهوده او **حرام** کار نه ځان ساتئ. خپل بچي او خپلوان د دې نه منع کړئ، کوم ځائ کښې چه لوپران ماشومان [یا غټ کسان] داسې لوبې کوي هلته د تماشې کتلو د پاره هم مه ورځئ. (اسلامی زندگی ص۷۸) (د شبِ بَراءَت رواج شوې) آتش بازي کول بې شکه اسراف او فضول خرچي ده، لِهٰذا د دې **ناجائزه او حرام** کیدل او دغه رنګ د آتش بازي سامان جوړول، خرڅول، اخستل ټول شرعاً منع دي. (فتاوی اجملیه ج 4 ص52)

**زما آقا اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمَد رَضا خان** عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن فرمائي: آتش بازي چه څنګه په وَدونو او شبِ بَراءَت کښې رائج ده بې شکه حرامه او پوره جُرم دي، ځکه چه دا مال ضائع کول دي.
(فتاوٰی رضویه ج 23 ص 279)

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

# د آتش بازئ جائز صورتونه

په شبِ بَراءَت کښې چه کومه آتش بازي کيږي د هغې مقصد لوبې او تماشې وي، لِهٰذا دا ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکې کار دې. خو د دې ځينې جائز صورتونه هم شته دې لکه څنګه چه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خدمت کښې سوال اوکړې شو: څه فرمائي عُلمائے دين په دې مسئله کښې چه آتش بازي جوړول او اَلوَځول **حرام** دي که نه؟ **الجواب**: منع او**ګناه** ده خو کوم صورت چه خاص د لوبو او د اِسراف او فضول خرچئ نه خالي وي لکه د مياشتې په ليدلو، يا په ځنګل کښې يا د حاجت په وخت کښې په ښار کښې د ضررې [يعنې نقصان ورکونکو ځناور] د شړلو د پاره يا د پټو نه يا د ميوو د وَنو نه د ځناورو د شړلو او د مرغو اَلوَځولو د پاره پټاخځ چول، [يا ډزې کول] وغيره. (فتاوٰی رضويه ج 23 ص290)

تجھ کو شعبانِ مُعَظَّم کا خدایا واسِطہ
بخش دے ربِّ محمّد تو مری ہر اک خطا

اے خدا یا! د شَعبَانُ المُعَظَّم په خاطر
اوبخښې ته زما هره خطا اے د محمد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم ربه!

## (1) د شبِ بَراءَت په اِجتِماع کښې زما د زړه دُنيا بدله شوه

په **شبِ بَراءَت** کښې د عِبادت جذبه زياتولو د پاره، په دې مُقَدَّسَه شپه کښې پخپله د آتش بازئ او د نورو ګناهونو نه د ځان بچ کولو، او

خپل ځان د باعمله مسلمان جوړولو د پاره د تبليغِ قرآن و سنت عالمَګير غير سياسي تحريك، **دعوتِ اسلامي** د مدني ماحول سره هر وخت تړون ساتئ، هره مياشت کم نه کم د درې ورځو د پاره د عاشقانِ رسول سره په"مدني قافلو" کښې د سنتو نه ډك سفر اختياروئ او د مدني انعاماتو مطابق د ژوند تيرولو کوشش کوئ. ستاسو د شوق او د نيکو د حِرص پيدا کولو د پاره دوه مدني سپرلي وړاندې کيږي: د **مرکزالاولياء** (لاهور) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: د تبليغِ قرآن و سنت عالمَګير غير سياسي تحريك، دعوتِ اسلامي د "مدني ماحول" سره د تړون نه مخکښې زه **مَعَاذَاللّٰه**عَزَّوَجَلَّ زيات د بدمذهبو په صحبت کښې د اوسيدو د غټې ګناه سره سره د نورو ګناهونو په يرونکي دَلدَل [خټو] کښې هم ښخبنتې ووم، په کروړونو افسوس چه **شپه او ورځ فلمونه او ډرامې کتل، او د بې حيائې د اَډو چکرې لګول زما په نِز مَعَاذَاللّٰه**عَزَّوَجَلَّ **د فخر کار وو.** زما د ګناهونو نه ډکې د خزان وهلې تورې شپې د ختميدو او د نيکو نه د ډك سحر د رنړا د شروع کيدو سبب دا جوړ شو چه د يو اسلامي ورور د انفرادي کوشش کولو په برکت سره ما ته په "هنجروال" کښې د **شبِ بَراءَت** په سلسله کښې کيدونکي د سنتو نه ډکه اجتماع کښې د شريك کيدو سعادت نصيب شو. د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي بيان دومره د غم نه ډك او ژړونکې وو چه زه په خپلو ګناهونو باندې پښيمانه شوم او د شرم نه مې سر ټِيټ شو، د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د نارضګئ څه داسې يره را باندې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس(شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

راغله چه د سترګو نه مي **د اوښکو دارې** رواني شوې! د اجتِماع په ختميدو کښې زمونږ د علاقې د "مدني قافلې ذمه دار" اسلامي ورور زما سره ملاقات اوکړو اوما ته ئې **د دريو ورځو په مدني قافله** کښې د سفر کولو رغبت راکړو، ولې چه زما د زړه دُنيا بدله شوي وه ځکه زه د هغه د **انفرادي کوشش** په نتيجه کښې د مدني قافلې مسافِر جوړشوم. په مدني قافله کښې د عاشقانِ رسول د شفقتونو [يعني دمهربانو] نه ډك صحبت کښې د اوسيدو [په برکت] ما ته د بې شميره سنتونو زده کولو سعادت حاصل شو. **اَلْحَمْدُلِلّٰه**عَزَّوَجَلَّ ما د خپلو تيرو شوو ټولو ګناهونو نه توبه اوکړله. چه کله رَمَضَانُ المُبارَك شروع شو نو ما د عاشقانِ رسول سره په آخِيرۍ عشره کښې د **اِعتِکاف** سعادت حاصل کړو. په دې اِعتِکاف کښې په وويشتمه شپه يو خوش نصيبه اسلامي ورور ته **اَلْحَمْدُلِلّٰه**عَزَّوَجَلَّ د سرکارِ دوعالَم، نُورِ **مُجَسَّم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، دې خبرې زما په زړه کښې د **دعوتِ اسلامي** محبت نور هم زيات کړو، او ما مُکمَّل طور د دعوتِ اسلامي د مدني ماحول سره تړون اوکړلو.

آؤ کرنے لگو گے بہت نیک کام، — مَدَنی ماحول میں کرلو تم اعتِکاف
فضلِ رب سے ہو دیدارِ سلطانِ دیں، — مَدَنی ماحول میں کرلو تم اعتِکاف
راحت وچین پائے گا قلبِ حزیں
مَدَنی ماحول میں کرلو تم اعتِکاف (وسائلِ بخشش ص353)

1. راشه ته او به کړې ډير نيك کارونه
په مدني ماحول کښې ته اوکړه اِعتِکاف

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبراني)

2. د الله په فضل سره به د دین د سلطان ﷺ دیدار در نصیب شي په مدني ماحول کښې ته اوکړه اِعتِکاف

3. خفه زړه به دِ راحت او ارام اوموِمي په مدني ماحول کښې ته اوکړه اِعتِکاف

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (2) د فلمونو لیوني

د باب المدینه (کراچۍ) د علاقې "بړا بورډ" د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده چه مخکښې زه د مُعاشرې یو وران ځوان ووم، هره ورځ په پابندۍ سره د ډیرو فلمونو ډرامو د کتلو په وجه په محله کښې د "فلمونو د لیوني" په نوم مشهور ووم. زما د صحیح کیدو سبب دا جوړ شو چه د یو اسلامي ورور د "اِنفِرادي کوشش" په نتیجه کښې په "کهجّی گراونډ" (گلبهار) کښې د تبلیغِ قرآن و سنت عالمګیر غیر سیاسي تحریك، دعوتِ اسلامي د طرف نه کیدونکي د شبِ بَراءَت د سنتو نه ډکه اجتِماع کښې راته د شریك کیدو سعادت حاصل شو. هلته ما د "قبر کی پہلی رات" [یعني د قبر اولنۍ شپه] په موضوع باندې ژړونکي بیان واوریدو، د **الله** عَزَّوَجَلَّ د یرې نه زما زړه اولړزیدو، ما د تیرو گناهونو نه توبه اوکړله، او د دعوتِ اسلامي د مدني ماحول سره مې تړون اختیار کړو. زمونږ ټوله کورنۍ دنیاداره وه، اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ زما په **انفرادي کوشش** سره زما پینځه ورونړه **دعوتِ اسلامي والا** جوړ شو، او ټولو په سرونو د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طبراني)

شنې عِمامې شریفې تاجونه کیښودل، او په کور کښې مُکَمَّل مدني ماحول جوړ شو، د دې لیك د وخته پورې د "حلقه مُشاورت" د خادم په حیثیت سره د سنتو خدمت کووم. زما د **سنتو** د تربیت په مدني قافلو کښې د سفر کولو ډیر شوق دې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هره میاشت په پابندۍ سره د دریو ورځو په مدني قافله کښې د عاشقانِ رسول سره سفر کووم.

یقینا مُقَدَّر کا وہ ہے سکندر جسے خیر سے مل گیا مَدَنی ماحول
یہاں سُنّتیں سیکھنے کو ملیں گی دِلائے گا خوفِ خدا مَدَنی ماحول
اے بیمارِ عِصیاں تُو آ جا یہاں پر
گناہوں کی دیگا دوا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص ۳۳)

مفهوم: 1. یقیناً د مقدر هغه سکندر دې،
چا ته چه په خیر میلاؤ شو مدني ماحول

2. دلته به د زده کولو د پاره سنتونه میلاؤ شي،
در به کړي یره د الله مدني ماحول

3. اے د ګنا هونو بیماره! دلته راشه،
د ګناهونو دوا به در کړي مدني ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سنتّو فضیلت او یوڅو سنّتونه او آداب د بیانولو سعادت حاصلوم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نبوّت، مصطفٰی جانِ رحمت، شمعِ بزمِ هدایت، نوشه بزمِ جنت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چه زما د سنّتو سره مینه اوکړه، هغه زما

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

سره مینه اوکړه، او چا چه زما سره مینه اوکړه، هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (مِشْکَاۃُ الْمَصابِیح ج1 ص55 حدیث175)

سینہ تیری سنّت کا مدینہ بنے آقا
جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډي دَ ځان مې کړه خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د "شَعبَانُ المُعَظَّم" د یولسو حروفو په نسبت د قبرِستان د حاضرئ 11 مدني ګلونه

(1) د نبي کریم،رؤُوف رَّحیم عَلَیْہِ اَفْضَلُ الصَّلٰوۃِ وَالتَّسْلِیْم فرمانِ عظیم دې: ما تاسو د قبرونو د زیارت نه منع کړي وئ، خو اوس تاسو د قبرونو زیارت کوئ ځکه چه دا د دُنیا نه د بې رغبتئ سبب او د آخِرت یاد ورکوي-

(سُنَنِ ابنِ ماجه ج2 ص252 حدیث 1571)

(2) که څوک د (ولي الله د مزارشریف یا) د هر مسلمان د قبر زیارت ته تلل غواړي نو مُستحب دا دي چه مخکښې په خپل کور کښې (چه مکروه وخت نه وي ) دوه رکعته نفل اوکړي، په هر رکعت کښې دِ د **سورۃُ الفَاتِحه** نه پس یو ځل **آیۃُ الکُرسِي** او دري ځله **سورۃُ الاِخلاص** اولولي او د دې مونځ ثواب دِ د قبرخاوند ته وراوبخښي، الله تعالٰی به د هغه وفات شوي بنده

په قبر کښې نور پیدا کړي او دې (ثواب وربخښونکي) کس ته به ډیر زیات ثواب عطا کړي. (عالمگیری ج5 ص350 دارالفکر بیروت)

(3) د مزارشریف یا د قبر زیارت ته چه ځي نو په لار کښې دِ په فُضولو خبرو کښې نه مشغولیږي. (ایضًا)

(4) په مقبره کښې دِ په هغه عامه لارځي، کوم ځائ کښې چه په تیر شوي وختونو کښې کله هم د مسلمانانو قبرونه نه وو،کومه لارچه نوې جوړه شوې وي په هغې دِ نه ځي. ''رَدُّالمُحتار'' کښې دي (قبرِستان کښې که قبرونه وران کړې شوي وي او په هغه ځائ) کومه نوي لار جوړه کړې شوي وي په هغې تلل حرام دي. (ردُّالمُحتار ج1ص612) که چرې د نوې لارې غالِب گُمان هم وي نو بیا هم په هغې تلل ناجائِز او گناه ده.
(دُرِّمُختار ج 3 ص 183 دارالمعرفه بیروت)

(5) د ډیرو مزاراتِ اولیاء په خوا کښې لیدلې شوي دي چه د زائِرینو (یعنې د زیارت کونکو) د سهولت د پاره د مسلمانانو قبرونه وران کړې شوي دي او د پاسه پرې فرش جوړ کړې شوې وي، په داسې فرش باندې ملاسته، گرځیدل، اودریدل، د تِلاوت او ذِکر و اذکار د پاره کیناستل وغیره حرام دي، (داسې مزاراتو ته) د لرې نه فاتِحه لولئ.

(6) د قبر زیارت (یعنې حاضري) په مُوَاجَهَه (یعنې د مخ طرف) ته په ولاړه پکار ده او د هغه (یعنې د قبر والا) د کُوز طرف (یعنې د ښپو د طرفه) دِ ورله ورشي چه د هغه سترگو ته مخامخ وي، د سر د طرف نه دِ نه ورځي چه

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ماباندې درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

هغه د کتلو د پاره سر راپورته کړي [يعنې دا قبر والا ته تکليف ورکول دي] (فَتاوىٰ رَضَوِيَّه مُخَرَّجه ج9 ص532 رضا فاونډيشن مرکز الاولياء لاهور)

(7) په قبرستان کښې داسې اودريږئ چه قبلې طرف ته مو شا او قبرونو طرف ته مو مخ وي، د هغې نه پس داسې اووائې: اَلسَّلَامُ عَلَيۡکُمۡ يَا اَهۡلَ الۡقُبُوۡرِ يَغۡفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَکُمۡ اَنۡتُمۡ لَنَا سَلَفٌ وَّنَحۡنُ بِالۡاَثَرِ. ترجمه: اے قبروالؤ! په تاسو دِ سلام وي، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ زمونږه او ستاسو بخښنه اوکړي، تاسو زمونږ نه مخکښې راغلي ئې او مونږه ستاسو نه پس راتلونکي يو.(عالمگيرى ج5 ص350)

(8) خوک چه قبرِستان ته داخل شي او دا اووائې: اَللّٰهُمَّ رَبَّ الۡاَجۡسَادِ الۡبَالِيَةِ وَالۡعِظَامِ النَّخِرَةِ الَّتِىۡ خَرَجَتۡ مِنَ الدُّنۡيَا وَهِىَ بِکَ مُؤۡمِنَةٌ اَدۡخِلۡ عَلَيۡهَا رَوۡحًا مِّنۡ عِنۡدِکَ وَسَلَامًا مِّنِّىۡ۔ ترجمه: اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! (اے) دَ دوړيدونکي وجودونو او دَ وراسته شوي هډوکو ربه! خوک چه د دُنيا نه د ايمان په حالت کښې تلي دي په هغوئي خپل رحمت اوکړې او زما سلام ورَ اورسوې.

نو د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام نه واخله تردغه وخته پورې چه څومره مسلمانان وفات شوي وي ټول به د هغه (يعنې دُعا لوستونکي) د پاره د بخښنې دُعا کوي (مُصنّف اِبنِ ابى شيبه ج 10 ص15 دارالفکر بيروت)

(9)د شفيعِ مُجرِمان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ شفاعت نِشان دې: خوک چه قبرِستان ته داخل شو، بيا هغه (سورةُ الفاتحه، سورةُ الاِخلاص او سورةُ التَّکَاثُر) اووئيلو بيا ئې دا دُعا اوغوښتله: يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ما چه څه قرآن اولوستو د دې ثواب د دې قبرستان مؤمنانو نارينؤ اومؤمِنانو زنانؤ ته

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

اورسوي. نو هغه ټول مؤمنان به د قيامت په ورځ د هغه (يعنې د ثواب بخښونکي) سفارشي وي. (شرحُ الصُّدُور ص311 مرکزِ اهلسُنّت برکاتِ رضا الهند)

حديثِ پاک کښې دي: "څوک چه 11 ځله **سورةُ الاِخلاص** يعنې **قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد** (پوره سورت) اولولي او د دې ثواب مړو ته ور اوبخښي، نو د مړو د شمار هُمره به هغه ته ثواب مِلاويږي" (دُرِّمُختار ج3 ص183)

(10) په قبر د پاسه دِ اګربتۍ نه بلولې شي په دې کښې سوء ادب (يعنې بې ادبي) او بدفالي ده (او د دې نه مړي ته تکليف رسي) خو که (حاضرو خلقو ته) د خوشبو (کولو) د پاره (لګول غواړئ نو که) د قبر خوا سره خالي ځائ وي نو هلته ئې اولګوئ ځکه چه خوشبو کول محبوب (يعنې خوښ عمل) دې. (مُلخّص ازفتاوىٰ رَضَوِيَّه مُخَرَّجَه ج 9 ص 482،525) ۞ اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ يو بل ځائ فرمائی: "صحيح مسلم شريف" کښې د حضرتِ عَمْرُو بن عاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې، هغوئي د وفات په وخت کښې خپل فرزند [ځوئ] ته اوفرمائيل: "چه کله زه وفات شم نو زماسره دِ نه ژړا کونکې ښځې ځي او نه دِ راسره اور ځي." (صحيح مسلم ص75 حديث 192 دارابن حزم بيروت)

(11) په قبر ډِيوه يا موم بتۍ وغيره مه ګرځوئ ځکه چه دا اور دې، او په قبر با ندې اور کيښودو سره مړي ته تکليف رسي، خو که د شپې په لاره باندې تلونکو [خلقو] د پاره رڼړا کول مقصود وي، نو د قبر نه يو طرف ته په خالي زمکه باندې موم بتۍ يا ډِيوه وغيره کيښودې شئ.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شریف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کنزالعمال)

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د مکتبۃالمدینه دوه کتابونه (1) د **312** صفحو کتاب "**بهارِشریعت**" حصّه **16** او(2) د **120** صفحو کتاب "**سنّتیں اور آداب**"هدیه کړئ او اولولئ. د سنّتونو د تربیّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي په مدني قافِلو کښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتونو نه ډک سفر هم دي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## فهرست


| | | | |
|---|---|---|---|
| د درود و سلام د عاشق مُقام | 1 | محرومه خلق | 12 |
| د آقا میاشت | 2 | د اِمامِ اهلِسُنَّت پیغام ټولو .... | 14 |
| د شَعبان د پینځو حروفو سپرلي | 2 | د پینځلسم شَعْبَان روژه | 16 |
| د صحابه کِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان جَذبَه | 3 | د فائدې خبره | 16 |
| د اوسنو مسلمانانو جذبه | 4 | شنه پرچه | 17 |
| د نفلي روژو خوښه کړې شوې میاشت | 5 | د ماښام نه پس شپږ نفلونه | 17 |
| خلق د شَعبَان نه غافل دي | 5 | دُعائے نصفِ شَعبَانُ المُعَظَّم | 19 |
| د مرکیدونکو د فهرست جوړولو ... | 6 | د سګِ مدینه عُفِیَ عَنۡهُ مدني عرضونه | 21 |
| آقا به د شَعبان زیاتې روژې نیولې | 6 | ټول کال د جادو نه حِفاظَت | 22 |
| د حدیثِ پاك شرح | 7 | شبِ بَراءَت او د قبرونو زیارت | 22 |
| په دعوتِ اسلامي کښې د روژو سپرلي | 8 | د آتش بازۍ ایجاد کونکي څوك ... | 23 |
| د شَعبَان اکثر روژې نیول سنت دي | 8 | په شبِ بَراءَت کښې د آتش بازۍ... | 24 |
| د خیر ښیګړو شپې | 9 | د آتش بازۍ جائز صورتونه | 25 |
| نازکې فیصلې | 9 | د شبِ بَراءَت په اِجتِماع کښې... | 25 |
| د ډیرو ګنهګارانو بخښنه کیږي خو | 10 | د فلمونو لیونې | 28 |
| د حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام دُعا | 11 | قبرِستان د حاضرۍ 11 مدني ګلونه | 30 |

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د سنّتو سپرلي

الحمدلله عزوجل د تبليغ قرآن و سنّت عالمګیرغیرسیاسي تحريک **دعوت اسلامي** په خوشبودارمدني ماحول کښې په کثرت سره سنّتونه زده کيږي او ښودلې شي، هره پنجشنبه (يعنې زيارت) د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکي د دعوت اسلامي په هفته واره اجتماع کښې د ټوله شپه تيرولومدني عرض دې، د عاشقانِ رسول سره په مدنی قافلو کښې سفر، او هره ورځ د "فکرِمدينه" په ذريعه د مدني انعاماتو رساله ډکولو او د خپل ځائ ذمه دارته د جمع کولو عادت جوړ کړئ. ان شآءالله عزوجل د دې په برکت سره به دسنّتو د پابند جوړيدو، د ګناهونو نه د نفرت کولو او د ايمان د حفاظت دپاره د سوچ او فکر ذهن جوړيږي. **هراسلامي ورور دِ خپل دا ذهن جوړکړي چه "ماته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي"،** ان شآءالله عزوجل د خپل ځان د اصلاح د کوشش کولو د پاره په "**مدني انعاماتو**" عمل او دټولې دنيا د اصلاح د کوشش د پاره په "**مدنی قافلو**" کښې سفرکول دي. ان شآءالله عزوجل






فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net